# دافغانستان زحمتکشان تاسو ته سترګی په لار دی

ګرانو ملګرو او د وطن دګوند تیتوپیتو پر وطن مینونه سترړی کیدونکو د یوی سنګر سنګروالو هرچیری چی یاستی سره یو شی او له ځانځانی نه لاس په سر شی او دملګرو شهیدانو دارمانو په خاطر خپل صفونه سره نژدی کړی ، دافغانستان زحمتکشان تاسو ته سترګی په لار دی .

په دی ورځو کی د سایتونو د مطالعی څخه داسی الهام اخیستل کیږی چی ځمونږ ملګرو وروسته له یو څه ځنډ خپل تاریخی مسولیتونوته دیو متعهد او انقلابی شخص په توګه دهیواد اود هیواد والو دنارام حالاتو په پاملرنی سره دی امر ته متوجه شوی ، چی باید دتاریخ په دی مقطع کی خپل دندی دبی وزلودسمون دپاره سرته ورسوی .
ګرانو ملګرو : له هغه ړومبی ورځی نه چی مو مبارزی ته پیل کړ ، نه دچوکی ، نه د مقام ، نه د ثروت او نه دخپل طبقی دکټولاس ته راوړلو دپاره موتعهد کړی وه ، مونږ ویلی وه چی د افغانستان د زحمتکشانو د ژوند د سمون دپاره مبارزه کوو ، اوپه دی پوه وو چی لار ډیر پیچلی دی ، په همدغه پیچلی لار تر اخره ځوو ، چی لاتر اوسه هم روان یو . په داګه داسی یادونه کوم چی ځمونږ دښمنان له یوسره او دهغو په سر کی جهان خوارامپریالیزم لګیا دی چی شتمنی او دارو ندار مو غارت کړی او ځمونږ خلک لا پسی بی وزله کړی ، هر هغه ځوک چی ددی کرغیړن دښمنانو سره روغه جوړه کړی ، یا دهغو سره جوړامد وکړی، یا دهغو سره مرسته وکړی ،زه پخپله دهغه سره بیګانه او دملګری په صفت خو لا څه چی دښمن یی بولم .
ملګرو .: راځی چی شف شف ونکړو شفتالو ووایو اوهغه دا چی زر سره یو شی او بیکاره او هغو چی خپل امتحان یی ورکړی دی اود ګوند اهداف یی دخپل او دخپل طبقی دامتیازاتو په منظم قربان کړی دی او لا تراوسه دملګرو د وحدت په لار کی سنګ اندازی کوی له خپل صف څخه یی وباسو او پرینیږدوچی اوبه خړ کړی او ماهیان ونیسی .
ملګرو لکه چی تاسو ته پوره معلوم دی اته کاله مخکی یعنی د طالبانو د قدرت په وخت کی چی ځوک دداره د وطن دګوند نوم نشو اخیسی ، او ځمونږ دښمنان ځمونږ فاتحه اعلان کړی وه ، بیا ځمونږ د ګوند اصیل بچیان چی دهغو شمیر دلاس دګوتونه زیات نه وه د خپل ګوند غږ راپورته کړ او ملګرو ته دیو کیڼ اړخ ګوند دجوړولو بلنه ورکړ اولا تر اوسه دهمدی ستراوشریفانه هدف دپاره نه سترړی کیدونکی هڅه او اند کوی ،چی دغه ملګری دنهضت آینده مبارزان دی ، ددوی کور دی ودان وی چی دافغانستان د زحمتکشانو پرچم یی بیرته لوړکړل

او ماته هم دا فرصت مساعد شو چی د خپل اندیښنی ملګری پیدا کړم او خپل مبارزی ته دوام ورکړم .

ملګرو : د**"نیروهای ملی، مترقی و دموکرات افغانی در اروپا"** او د آینده نهضت فراخوانونه او اعلامیه می په غور سره ولوستل او ډیر خوشحال شم چی په ملګرو کی د یوالی او یو موټی کیدو احساس ژوندی شوی ،چی په واقیعت کی دهر ملګری دزړه ارمان دی ، مګر متاسفانه ځنی لا تر اوسه خپل موقف پسی ګرځی او په وحدت سره ډاریږی چی خپل شخصی ،سمتی اوطبقاتی امتیازات دلاسه ورنکړی ،نو په دی بنیاد اوبه خړوی ، زه دیو ملګری په صفت ستاسو پاملرنه دی ته اړوم چی د نهضت اینده طرح د دووکمیسینونو د ګډی مشوری او فیصلی په ارتباط دیوالی اسا سی او کلیدی او د ملګرتیا طرح نه دی ؟ ایا دا طرحه د افغانی او د ملګرتیا پر بنسټ ولاړ نه دی؟ زه هغو ته وایم چی ایا شپاړلس یا اولس کلن شکررنجی په یوه نمایشی ناسته کی حلیدلی شی؟ ، هغه هم بی له کوم مخکینی علماً تنظیم شوی آجندا سره .

بیاهم تاسی پوهیږی چی هرڅه کویی اختیار مو خپل دی ، مګر زه په اخرکی داسی وایم چی که سره یو نشیی ټول ورکیږی اود تاریخ په زبالدان کی ولویږی ، بیا به نه تاسی اوسیږی اونه به هم مونږ . چرت ووهی اوخپل لار معلوم کړی .

په درناوی
پوهندوی دوکتور سید حسام ( مل)
جرمنی ۲۰۰۸-۴-۱۷